# د راجع کولو لپاره ملي میکانیزم (NRM)

د والدینو لپاره لارښود


© The Children's Society 2020

The Children's Society

## NRM څه شی دی؟

د NRM یا د راجع کولو لپاره ملي میکانیزم د انساني قاچاق او عصري غلامۍ قرباني پیژندلو لپاره یو چوکاټ دی.

د دې پروسې له لارې باید ډاډ ترلاسه شي چې قربانیان ملاتړ ترلاسه کوي او دا چې د دوی تجربې پیژندل کیږي.

## د انسان قاچاق څه شی دی؟

یو ماشوم باید د قاچاق قرباني په توګه وپیژندل شي که چیرې لاندې دوه شیان ترسره شوي وي:

### .1

ماشوم **استخدام شوی دی** (د بیلګې په توګه د پیسو، ډالیو، ټولنیز موقعیت او/یا هغوی ته د خپلوۍ او هویت د احساس ورکولو له لارې – موږ دې ته **"غولول"** وایو.)

یا

ماشوم له A څخه B ته **لیږدول شوی** (دا ممکن د اوږد یا لنډ واټن لپاره وي، پشمول په ورته کلي، ښارګوټی یا ښار کې)

یا

ماشوم **پټ ساتل شوی**. پټ ساتل معنی داده چې یو ماشوم په یومخصوص ځای کې ساتل کیږي، د بیلګې په توګه په مزرعې کې، یا په داسې کور کې چې د مخدره توکو معاملو لپاره د اډې په توګه کار اخیستل شوي وي (اکثرا د جال کور په نامه یادیږي).

### .2

دا د **ناوړه ګټې اخیستنې موخې لپاره ترسره شوی.**

نو د بیلګې په توګه، یو ځوان په ریل ګاډي کې له یو ځای څخه بل ځای ته د مخدره توکو د لیږدولو او رسولو لپاره لیږل کیږي. موږ دې ته **جرمي ناوړه ګټه اخیستنه وایو.**

په بل مثال کې ممکن د یو ځوان بانکي حساب شامل وي چې د پیسو ساتلو لپاره کارول کیږي کوم چې په غیرقانوني ډول ترلاسه شوي. موږ دې ته **مالي ناوړه ګټه اخیستنه وایو.**

د **کاري ناوړه ګټه اخیستنه** مثال کې یو ځوان شامل کیدی شي چې پرته له دې چې معاش ترلاسه کړي 'کار' ته چمتو شي.

یا **جنسي ناوړه ګټه اخیستنه** لکه څنګه چې دوی د یو یا ډیرو خلکو سره جنسي اړیکې ته اړ ایستل شوي دي.


© The Children's Society 2020

The Children's Society

**لکه څنګه چې د ټولو ماشومانو په اړه ناوړه ګټه اخیستنه وي، د انسان قاچاق او عصري غلامي د ځوان کس او هغه چا تر مینځ چې د دوی کنټرول کوي د ځواک توپیر موجود وي (د بیلګې په توګه د عمر یا حیثیت له امله توپیر).**

که چیرې یو ماشوم سره داسې سلوک وشي چې ګواکي ددوی ملکیت وي (لکه د ملکیت یوه ټوټه) یا که چیرې دوی د کوم ځای لپاره کار کولو ته چمتو شوي وي او ونه شي کولای هغه ځای پریږدي نو دې ته عصري غلامي ویل کیږي.

دا مهمه ده چې په یاد ولرئ هر ماشوم د هرډول شالید سره ناوړه ګټه اخیستنې لپاره غولیدلی شي. پدې کې هیڅ شرم نشته، په هرصورت مهم شی د نښو پیژندل او ریوټ ورکول دي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې ماشوم سم ملاتړ ترلاسه کوي. NRM د نورمال خوندیتوب کړنلارو لپاره بدیل ندی، بلکه د NRM پروسه ددې یوه برخه کیدای شي. نو له دې امله پولیسو او ستاسو ځایی ټولنیزو خدماتو ته د خپلو اندیښنو په اړه ریوټ ورکول لاهم مهم دي.

## د NRM راجع کولو پروسه

والدین نشي کولی پخپله NRM راجع کول ترسره کړي، مګر ځینې سازمانونه لکه پولیس او ټولنیز پاملرنې دنده لري چې د کورنیو چارو دفتر (Home Office) ته ورته قضیې راجع کړي که چیرې دوی شک ولري چې څوک د انسان قاچاق قرباني کیدی شي. مسلکي کسان چې د راجع کولو دنده لري د **لومړي ځواب ویونکي** په نامه یادیږي.

- که چیرې د قاچاق نښې (د شاخصونو په توګه هم پیژندل شوي وي) شتون ولري، نو دا باید د لومړي ځواب ویونکي لپاره کافی وي ترڅو د کورنیو چارو دفتر ته راجع شي.
- د کورنیو چارو دفتر به بیا پریکړه وکړي چې آیا دا شخص باید د قاچاق قرباني په توګه وپیژندل شي.
- ځینې خیریه موسسې د NRM راجع کول ترسره کړي او دا هم کولی شي ترڅو تاسو ته مشوره درکړي. د بیلګې په توګه تاسو کولی شئ د NSPCC د مرستې کرښه یا د غلامۍ عصري مرستې [13] د ملاتړ لپاره زنګ ووهئ.

## د NRM پریکړه څه معنی لري؟

د پریکړې کولو پروسه دوه پړاونه لري:

1. **د پام وړ لومړنی پریکړه** باید د پنځو ورځو په اوږدو کې ترسره شي. د دې معنی دا ده **"زه شک لرم مګر نشم ثابتولی"** دوی قرباني دي.
2. د دې وروسته، **نهایی هراړخیزه پریکړه** باید وشي. د دې معنی دا ده **"دا ډیر احتمال لري"** دوی قرباني دي.

اضافي معلومات د کورنیو چارو دفتر ته لیږل کیږي ترڅو چې دوی نهایي بشپړه پریکړه وکړي. هر اړونده نوي معلومات به دوی سره د دوی پریکړې کې مرسته وکړي. پداسې حال کې چې والدین نشي کولی د NRM راجع کول ترسره کړي، تاسو د راجع کولو وروسته نوي معلومات لیږلی شئ. موږ به دې لپاره وهڅوو چې د هغه کس یا سازمان سره ملګرتیا کې ترسره شي څوک چې په پیل کې راجع کول ترسره کړی وي، که امکان ولري. نوي معلومات باید Nationalreferralmechanism@homeoffice.gov.uk ته واستول شي


© The Children's Society 2020

The Children's Society

که یو ځوک د قاچاق قرباني په توګه پیژندل شوی وي، دا باید ددوی سره هرډول چلند باندي اغیزه وکړي که چیرې دوی نیول شوي وي یا د کوم جرم لپاره د تورونو سره مخ شوي وي، ځکه چې ځوان شخص ځخه ناوړه ګټه اخیستل شوی و. پدې حالت کې د قاچاق قربانیان هم حق لري چې د عصري غلامی دفاع په نوم قانوني دفاع وکاروي او باید د دوی له وکیل سره پدې اړه بحث وکړي.

که یو ماشوم د کورنیو چارو د دفتر څخه مثبته نهایي پریکړه ترلاسه کړي نو بیا دوی ته ملاتړ ته لاسرسی چمتو شي، لکه درملنه، ترڅو د دوی له تجربو څخه رغیدو کې مرسته وکړي. دا ملاتړ باید د ټولنیزو خدماتو لخوا چمتو شي او د NRM پریکړه باید د دوی د خوندیتوب پریکړې کولو برخه وي. د والدینو په توګه تاسو کولی شئ د مثبتي پریکړې څخه له ټولنیزې خدماتو د ملاتړ لپاره عدالت غوښتنه وکاروئ. ستاسو ماشوم ممکن د دې وړتیا هم ولري چې د [د ماشومانو د قاچاق خپلواکه مرسته خدماتو څخه ملاتړ ته لاسرسي ومومي].

که ستاسو ماشوم په انګلستان کې د پناه غوښتني یا ساتني په لټه کې وي نو د NRM پریکړه ممکن پدې اړه اړوند وي. په ځینو مواردو کې د NRM یوه مثبت پریکړه ممکن د کورنیو چارو دفتر دې ته اړ باسي ترڅو ستاسو ماشوم ته په انګلستان کې د یوڅو مودې لپاره پاتي کیدو اجازه ورکړي. دا مهمه ده چې تاسو په لومړني فرصت کې د خپل ماشوم د کډوالی وکیل ښکیل کړئ، دا به غوره وي چې دا کار مخکې له دې چې NRM وړاندې شي ترسره شي. بیا دوی کولی شي په NRM او د دې په تړاو ستاسو د ماشوم د ساتني ادعا پورې تړاو په اړه مشوره چمتو کړي.

## څه که تاسو د NRM پریکړې سره خوښ نه یاست؟

که چیرې خوښ نه یاست تاسو یا ستاسو ماشوم حق لرئ چې د NRM پریکړې باندي د کورنیو چارو دفتر لخوا د بیا غور لپاره غوښتنه وکړئ. تاسو د قانوني استازیتوب حق هم لرئ چې پریکړې ته ننګونه وکړئ او دا به د عامه قانون وکیل لخوا ترسره شي (حقوقي مرستي ممکن د دې لپاره ستاسو د شرایطو پورې اړوند شتون ولري). تاسو کولی شئ [دلته] د عامه قانون وکیل ومومئ.

## چیرې باید مرسته ترلاسه کړئ

د مرستي ترلاسه کولو یا د هرې اندیښني لپاره د خبرې کولو لپاره چې تاسو یې لرئ تاسو کولی شئ د عصري غلامی د مرستي کرښې (Modern Slavery Helpline) **0800 012 1700** یا د NSPCC د مرستي کرښې **0808 800 5000** باندې زنګ ووهئ.

که ستاسو ماشوم نه غواړي تاسو سره د دوی د وضعیت په اړه وغږیږي، یا حتی که دوی وغواړي خبري وکړي، دوی ته اجازه ورکړئ چې پوه شي دوی تل د **0800 1111** باندې د ماشوم سره د مرستي کرښې سره اړیکه نیولی شي یا دوی سره آنلاین خبرې کولی شي، د توضیحاتو سره [دلته]. د انګلستان په ځینو برخو کې ماشومان د ماشومانو د قاچاق د خپلواکه ملاتړ خدماتو ملاتړ ته لاسرسی موندلی شي. د دې معلوملو لپاره چې ستاسو ماشوم دا ملاتړ ترلاسه کولی شي تاسو د **0800 043 4303** باندې د بارناړدو (Barnardo) 24 ساعته ملاتړ ته زنګ وهلی شئ .

**که تاسو اندیښنه لرئ چې ستاسو ماشوم د خطر سره مخ دی، مهرباني وکړئ پولیسو ته په 101 یا بیړنی حالت کې 999 ته تلیفون وکړئ او تشریح کړئ چې تاسو اندیښنه لرئ چې ستاسو ماشوم قاچاق کیږي.**

موږ لاهم تاسو هڅوو ترڅو خپل سیمه ایز ټولنیز پاملرنې ټیم ته زنګ ووهئ - تفصیلات ستاسو د محلي شورا ویب پاڼې کې شتون لري. تاسو کولی شئ خپله سیمه ایزه شورا [دلته].


© The Children's Society 2020